# دعبدالباري اسير د تذکره نګاري تحقيقي او تنقيدي جائزه

**A Study & Critical Analysis of Anthology of Abdul Bari Aseer**

محمد ذاکر*

ډاکټر نصيب الله سيماب♥

**Abstract:**

Abdul Bari Aseer is one of the prominent writers of pashto literature in Southern Pashtoon Khwa. He had authored many books of poetry and prose. One of which is an anthology of the poets of pashto language in Southern Pashtoon Khwa.The authors of this papers strived to critically analyse the anthology compiled by Abdul Bari Aseer and unpack its merits and demerits.

**Keywords:** Abdul Bari Aseer, Pashto Literature, Southern Pashtoon Khwa.

تر دې وړاندي چي د عبدالباري اسير صاحب په تذکره نګاري بحث وکړو ښه به دا وي چي لومړی دا په ګوته کړو چي تذکره څۀ ده او په ادب کښي ددې کوم مقام دی.

د لغت ټول پوهان په دې باندي متفق دي چي د تذکرې توری له ذکر څخه ماخوز دی هم دغه رنګه ذکر د یاداشت ،بیان او یادوني په معنا راځي.په اردو او پښتو قاموسونو کښي دغه توري داسي تشريح شوی دی.

> " تذکره (tazkra)ښځ.م.(ج.تذکرې)1ذکر،بيان،ياداشت2.ژوند پېښي.هغه کتاب چي د شاعرانو پوهانو ژوند پکي ليکل شوي وي3،د سجل پاڼه،د تابيعت پاڼه".(1)

**تذکره:**(عربی،مونث)

> "(1)ذکر بیان. یاداشت(2)زندگی کے حالات،وہ کتاب جس میں شعرا کے حالات زندگی درج ہو".(2)

د تذکرې توري په عام ډول په عربي کښي د نصيحت په معنا هم کارول شوی دی له دې سره سره د ټکټ دپاره هم کارول کېږي او د پاسپورټ او شناختي کارډ معنا هم ورکوي .نن هم په افغانستان کښي دغه توری د شناختي کارډ په معنا کارول کېږي.دلته د لغوي معني سره سم يو بله معني چي هغه اصطلاحي ده اوتذکره په ادبي اصطلاح کښي هغه اثر ته ويل کېږي چي د شاعرانو د ژوند حال احوال، زوکړه،مړينه، او د اثارو بېلګي په کښي معرفي شوې وي.خو داضروي نۀ ده چي تر ادب پوري دي محدوده وي.تذکره د بياض يو پرمخ تللی شکل دی،لومړی به په بياض کښي يواځي د شاعرانو شعرونه يو ځای کېدل خو وروسته دغه ځای تذکرې ونيو خو په تذکره کښي د شاعرانو له کلام سره سم د دوی نوم او تخلص هم سره يو ځای کېږي،او بيا د شاعرانو او ليکوالو په ژوند او کلام باندي لنډه تبصره هم کېږي،دغه رنګه تذکره له بياض څخه سوکه سوکه ځان بېلوي او ځان ته يو ځانګړی صنف خپلوي.چي په

---

* M.Phil Sholar, Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta

♥ Professor, Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta

هغه کښې تاريخي،تنقيدي،او د ژوند ليک څرکونه هم ليدل کېږي.د وخت او د چاپېريال غوښتنو پر تذکرو باندي د ادبي تاريخ،تنقيد ،او ژوندليکنې ډېره ژوره اغېزه کړې ده.د تذکرې په هقله ياسمين طاهر ليکي:

"اصطلاحی طور پر "تذکرہ" سے مراد وہ کتاب ہے جس میں شعراء کے حالات و واقعات حیات لکھے جاتے ہیں۔ تذکروں کی تالیف میں بیاض نگاری کے شوق نے ایک خاص کردار ادا کیا ہے۔ چنانچہ انتخاب اشعار کے ساتھ شعرا کے نام اور ان کے مختصر کوائف حیات جمع کئے جاتے تو اس کو "تذکرہ" کا نام دیا جاتا اور جب حالات کی جمع بندی اور اشعار کے انتخاب کے ساتھ مولف کی مدلل ذاتی رائے بھی دی جانے لگی تو اس قسم کے تذکرے میں مولف کا تنقیدی زاویہ بھی ابھرنے لگا"( 3)

**ژباړه** :په اصطلاحي توګه له تذکرې څخه هغه کتاب مراد دی چي په کوم کښې دشاعرانو حالات او واقعات ليکل شوي وي.د تذکرو په تاليف کښې د بياض نګاري شوق يو خاص کردار ادا کړی دی.کله چي به د اشعارو له چنې سره سره د شاعر نوم او د دهٔ د ژوند لنډغوندي معلومات سره يو ځای شول نو به د تذکرې نوم ورکړل شواو کله چي به د حالاتو سره يو ځای کولو او اشعارو په چنې کښې د مولف مدلل ذاتي رايه هم هم راغله نو په دا رنګه تذکرو کښې به د مولف تنقيدي زوايه هم څرګنده شوه.

د موجودو شواهدو له مخي په پښتو ادب کښې د سليمان ماکو تذکره اولياء(٦١٢) د پښتو لومړۍ تذکره ګڼل کېږي. چي د لوی استاد علامه عبدالحی حبيبي لخوا کشف شوې ده. دياد شوي تذکرې فقط ووه پاڼي موندل شوي دي.دغه ووه پاڼي په لومړي ځل لوی استاد عبدالحی حبيبي په کال1940م د کابل په کلنۍ ګڼه کښې خپرې کړې چي وروسته بيا په کال 1941م د پښتانهٔ شعراء په لومړي ټوک کښې شايع شوې،خو په کال 1982م د عبدالحی حبيبي په مقدمه سره ه کتابي بڼه کښې هم دا ووه پاڼي شايع شوې.په کال 2000م د د پښتو دغه تاريخي تذکره د عبدالحی حبيبي ريسرچ سېنټر پېښور له خوا د انګرېزي ژباړي سره د کتاب په بڼه کښې خوره شوه.حبيبي صاحب په دې باره کي داسي ليکي.

"د سلمان تذکره د پښتو مشاهيرو او ادبي رجالو يو مفصل تاريخ دی چي د هر سړي احوال پکي بيانوي د هغه علمي او روحاني مقام ښيي او بيا اشعار او ويناوي رانقلوي.د تذکرې څو پاڼي چي پېدا سوی دی دا ځيني معلومېږي چي سلمان د پښتو مشاهيرو احوال په داسي ډول ليکه چي سړي څنګه ژوند کاوهٔ ،چېري اوسېدهٔ،پلار،نيکه او کورنۍ يې کومه او چېري وه؟ او له هغه سړي څخه د خلګو په خولهٔ او زړو کي کومه وينا او کوم شعر پاته دی؟"(4)

تذکره الاوليا د پښتو بشپړ لومړۍ تذکره ځکه نهٔ شو ګڼلی لکه مخکښې چي ذکر وشو چي د دې تذکرې يواځي ووه پاڼي په لاس کښې لرو .په پښتو ادب کښې لومړۍ بشپړ تذکره د محمدهوتک بن داود پټه خزانه چي په د (١١٤١هـ-١١٤٢هـ ) کلونو تر منځ ليکل شوې ده.د پټې خزانې د مندلوپس علامه عبدالحی حبيبي صاحب د تذکرو دې لړۍ ته نوره هم ادامه ورکړه او د پښتانهٔ شعراء غوندي په زړهٔ پوري تذکرې يې د پښتو ادب په لمن کښې واچولې. په شلمه صدۍ کښې د ګڼو تذکرو رواج

که څۀ هم ختم شو خو دې رواج يو بل رنګ خپل کړ هغه داچي په دې وخت کښې سيميزو تذکرو دغه ځای ونيو د دې وجه دا کېدی شي چي په نوي وخت کښې د شاعرانو او ليکوالانو شمېر دومره ډېر شو چي په يوه تذکره کښې يو ځای کېدل تقريبا نامکن وه،او د هري سيمې ليکوالو دا هڅه پېل کړه چي د خپلي سيمي د شاعرانو او ليکوالانو تذکره وليکي،تذکرو په دې لړۍ کښې په خېبر پښتونخوا ،سهيلي پښتونخوا او د افغانستان په بېلابېلو سيمو کښې په ګڼ شمېر سميزي تذکرې ليکل شوي دي لکه څنګه چي په نورو سيمو کښې د پښتو دتذکرې ليکلو رواج وده موندلې وه دغه رنګه ورو ورو د سهيلي پښتونخوا ليکوالانو هم د تحقيق په ډګر کښې دې لوري ته پام راوښتی دی،د سهيلي پښتونخوا لومړۍ تذکره حافظ خان محمد ليکلې ده، دۀ خپله تذکره په کال 1957کښې ليکلې خو د کسې ګلان په نامۀ وروسته چاپ شوه.د سهيلي پښتونخوا په تذکره نګارانو کښې عبدالباري اسير هم خوار لوی نوم لري چي دلته به د دۀ په تذکرې په لنډ ډول معرفي شي.عبدالباري اسير د سُهېلي پښتونخوا د پښتو ادب يوه وتلې ادبي څېره ده. چي يو شمېر پېرزويني يې پښتو ادب ته کړي دي.نوموړی د لاجور خان په درنه کورنۍ کښې په 21مارچ کال1942م نړۍ ته سترګې غړولي دي.هسي خو دی د هيند په ناګپور نومي ښار کښې زوکړی دی.خو خپل پلارنی وطن يې پښين دی . تر مډل پوري زده يې کړي دي خو د نورو زده کړو دپاره نۀ دی توانېدلی، په قبيلوي توګه الله داد زئي،شموزئي،علي زئي، سنزر خېل کاکړ دی. د دۀ پلار او نيکۀ د قعله سيف الله په منګسه نومي کلي کښې استوګنه درلوده خو بيا وروسته پښين مچان کلي ته کډه شول.پروفېسر صاحبزاده حميدالله د عبدالباري اسير په ژوند داسي رڼا اچوي:

”۱۹۴۷ء تا ۱۹۵۲ء راقم الحروف کے ہم جماعت رہے. بعد میں مڈل سے پہلے پڑھائی چھوڑ دی. کافی سال بنگلہ دیش کے شہر چانگام میں والد کے ساتھ مقیم رہے. وہاں شعر وشاعری شروع کی. یہ غالبًا ۱۹۶۲ء کا سال تھا. اِپ کی شاعری کا رنگ پہلے عوامی تھا. بعد میں مضمون آفرینی اور نازک خیالی بھی کلام میں پیدا ہوئی. ریڈیو اور ٹی-وی کے مشاعروں میں شرکت کرتے ہیں. (5)

**ژباړه**: له 1947 تر 1952 پوري د راقم الحروف(صاحبزاده حميدالله) همصنفي و.او بيا يې تر مډل وروسته لوست پرېښود.ډېر کلونه د بنګه دېش په چانګام ښار کښې له خپل پلار سره ميښت وه.هم التته يې شعر وشاعري پېل کړه.دا غالباً 1962کال وه.د دۀ د شاعري رنګ لومړی اولسي و او بيا يې مضمون افريني او نازک خيالي په کلام کښې پېدا شوه.د ريډيو او ټي وي په مشاعرو کښې ګډون کوي.

د سهيلي پښتونخوا د پښين په ادبي بهر کښې د عبدالباري اسير ډېره لويه ونډه ده ،نوموړي د ډېرو ځوانانو شاعرانو روزنه کړې ده او په هر وخت کښې يې دوي ته حوصله ورکړې ده.عبدالباري اسير د شاعري تر څنګ يو پوخ ليکوال وه چي په اردو او پښتو ژبه يې وخت په وخت ليکني کولې،د دۀ ليکني به د کوټې په مشهوره ورځپاڼو کښې وخت په وخت خپرېدې،دغه رنګه يې د شاعري ټولګي هم چاپ شوي دي دنوموړي د پښتو شاعرۍ يوه ټولګه د "لونګين خيالونه" په نوم

چاپ ده هم دغه رنګه د غرو لمريني څوکي د نومورې تر مرګ وروسته چاپ شوه،د دې تر څنګ عبدالباري اسير د پښتو په تذکره نګاري کښي هم خپل يو ځانګړی مقام لري د دۀ دوې تذکرې پښتو ادب ته ډالۍ کړي دي چي لاندي به په لنډ ډول معرفي شي.

**د احساس سترګي** :د احساس سترګي د سيهلي پښتونخوا د اروانښاد عبدالباري اسير د پښتو تذکره ده چي د سهيلي پښتونخوا د بېلابېلو سيمو شاعران او ليکوال پکښي پېژندل شوي دي.دغه تذکره په کال 1985م د شيدايان پښتو ادب پښين لخوا خپره شوې ده او ټول 208 مخونه لري.عبدالباري اسير په دې تذکره کښي ټول 71شاعران او ليکوال وړاندي کړي دي.د هر شاعر د پېژندګلوي سره سره يې د هغه د کلام بېلګې هم وړاندي کړي دي او په خوړه ادبي ژبه يې د شاعرانو په کلام باندي تبصره کړې ده،په دې تذکره کښي اکثره د پښين د سيمي شاعران راغلي دي خو يو نيم داسي هم پکښي سته چي سهيلي پښتونخوا د نورو سيمو سره تعلق لري.د کتاب په پيل کښي عبدالباري اسير د لومړۍ خبري تر سر ليک لاندي د تذکرې په هقله خپل نظر وړاندي کړی دی او وروسته د رازمحمد راز صاحب د ژوند مرام د تاريخ او ادب له لاري تر اعنوان لاندي په زړۀ پوري سريزه وړاندي شوې ده.په دې تذکره کښي که څۀ هم د شاعرانو عکسونه نۀ دي وړاندي شوي خو د يونيم شاعر عکس پکښي تر سترګو کېږي دا په دې چي هغه د شيدايان پښتو ادب زمه واره خلګ وي.ا احساس سترګي نومي تذکره کښي لومړی ځوانان شاعران معرفي شوي دي او وروسته د سيمي سينئر يا مشران شاعران راغلي دي د داسي ترتيب وجه يې ليکوال د ځوانانو شاعرانو حوصله افزائي يادوي. د عبدالباري اسير دغه تذکره که څۀ هم سيميزه بڼه لري خو د سهيلي پښتوخوا څۀ نور ليکوال هم پکښي راغلي دي،عبدالباري اسير د شيدان پښتو ادب پښين د صدر په توګه دغه تذکره ليکلې ده او کوشش يې دا کړی دی چي په دې کښي د خپل ادبي تنظيم ملګري معرفي شي، خو د ليکوالو د پېژندګلوي په وخت دالته هم څۀ خاص ترتيب په نظر نۀ راځي،په لومړي سر کښي يې کشران ليکوال معرفي کړي دي او بيا يې مشرانو ته ځای ورکړی دی د عبدالباري اسير په قول له دې لاري به د کشرانو شاعرانو يو رنګه حوصله افزائي وشي،په دې اړه عبدالباري اسير داسي ليکي:

> " ما دلته قصداً ترتيب کتاب څه داسي ورکړی دی چه اول مي د نووو ځلمو شاعرانو د حوصله افزائي دپاره دوی ته پر لومړيو پاڼو ځای ورکۀ او مشران مي شاته کړو ځکه زه د مشرانو شاعرانو په دا وجه بخښنه غواړم"(6)

داحساس سترګي د عبدالباري اسير يوه په زړۀ پوري هڅه ده تر ډېره پوري د تذکره نګاري له اصولو سره سمه ښکاري،د سهيلي پښتونخوا په تذکرياتي ادب کښي چي د کومو تذکرو يادونه کېږي په سر کښي به يې د احساس سترګي نوم راځي ولي چي ياده تذکره په هغه وخت کښي منځ ته راغلې ده چي په دې سيمه کښي لاد تذکرو دې لړۍ سمه وده نۀ وه کړې،عبدالباري اسير دغه تذکره په ډېر خلوص

او مینه سره وړاندي کوي ولي چي دا یوه سیمیزه تذکره هم ده او بل دا چي په دې تذکره کښي د یوې مخصوصي ادبي ټولني شاعران او لیکوال معرفي شوي دي.په دې تذکره کښي چي کوم شاعران معرفي شوي دي د هغو نۀ یواځې ډېري ستاینې شوي دي بلکې لیکوال تر خپله اوسه لوړ کړي هم دي،په دې تذکره کښي عبدالباري اسیر یوه داسي خوږه او پسته ژبه کارولې ده چي د دۀ خلوص له ورایه ځیني معلومېږي،په دې تذکره کښي داسي یو لیکوال په نظر نۀ دی راغلی د کوم د کلام چي یې تنقیدي جاج اخیستي وي.ولي چي دا ټول لیکوال د یوې ادبي ټولني سره تعلق لري او د عبدالباري اسیر د دې ټولني د صدر په توګه خپل غړي معرفي کوي،نوښکاره خبره ده چي د خپلو لیکوالو پېژندګلوي به لوړو تورو سره کوي،په دې کښي د مولف یو مقصد دا هم مخ ته راځي چي هغه د خپلو لیکوالو حوصله لوړوي،د بېلګي په ډول د فیض محمد شهزاد هغه وخت د ټولني جنرل سیکټري دی او مولف یې په اړه داسي لیکي:

"دیٔ په اُردو ژبه کښي ډېري خوندګیري لاکن مختصره افسانې هم لیکي د پښتو دغه پیاوړی او تاند شاعر په ډېره لنډه موده کي د پښین په سیمه کي د ښه شهرت خاوند سو د ده کلام ډېره رواني لري او ځان ته یو بیل رنګ لري که سړی یوه غزل ځیني واوري نو زړه ئې دا غواړي چه راتینګ کړ سویٔ وای اوبله مي ځیني اورېدلی وای د ده کلام او د اورېدلو انداز او تلفظ ادایئګي هم له نورو بېل او متاثره کونکی انداز وي او تقریباً پر ټوله پښین باندي ډېر ګران دی دا ځکه چه دی یو دروند سنګین مزاجه ځلمی دی فلسفیانه او نفسیاتي خیال لرونکی دی،د ده په باب که ډېر څه ولیکل سي زما په خیال لږ به وي او انشاءالله دی به د وخته سره سم یو نماینده شاعر ثابت سي د ده کلام په ویلوبه تاسي ته معلومه سي چه سم رېغېږم او که چپ"(7)

*روشن اُگتے ہاتھ* د سُهېلي پښتونخوا په اردو ژبه لیکل شوې د پښتو د شاعرانو او لیکوالو تذکره ده د تذکره نګاري په لړ کښي د عبدالباري اسیر دویمه ادبي کارنامه ګڼل کېږي.دغه تذکره په کال 1991کښي د سعید پبلکېشن کوټې لخوا چاپ شوې ده چي پکښي په 592پاڼو کښي ټول 183شاعران او لیکوالان راپېژني.په دې تذکره کښي په زیات شمېر د سُهېلي پښتونخوا شاعران او لیکوال پېژندل شوي دي خو د پښتونخوا خیبر پښتونخوا او افغانستان د ځینو شاعرانو یادونه هم پکښي شوې ده.د شاعرانو او لیکوالانو په ژوند او فن باندي په اردو ژبه تبصرې شوي دي خو د کلام بېلګي یې په پښتو ورکړل شوي دي او ورسره یې د ځینو شاعرانو د شعرونو ژباړه هم په پښتو کښي کړې ده.د هر شاعر د ژوند د حالاتو سره سره یې د شاعر انو عکسونه هم وړاندي کړي دي .د عبدالباري اسیر پر دې تذکره باندي پروفیسر صاحبزاده حمیدالله او پروفیسر ربنواز مائل سریزي لیکلي دي او د کتاب پیل لیکوال د خپلو خبرو څخه کوي. د *روشن اُگتے ہاتھ* په هقله محمد داود وفا څۀ داسي لیکي:

"دا تذکره ادبي ده او زياتره په کې د پښتو ژبي استازي شاعران راپېژندل شوي . د اوسني افغانستان د شاعرانو او ليکوالو کوم استازی په کې نه شته، کوم يو نيم، چې په کوټه کې د ليکوال لاس ورسېده، په کې شته، خو په دې بسنه په کار نه ده، د دې تذکرې ژبه ادبي ده او د ګډونوالو معرفي يې پراخه او هنري ده"(8)

د عبدالباري اسير که څۀ هم دغه تذکره په اردو ژبه ليکلې ده خو ټول پښتانۀ شاعران او ليکوال پکښې معرفي کېږي، په دې تذکره کښې نۀ يواځې د سهيلي پښتونخوا بلکې د خېبر پښتونخوا د ځينو سميو شاعران هم معرفي شوي دي. د عبدالباري اسير په دې تذکره کښې هم څۀ خاص ترتيب په نظر نۀ راځي. نۀ پکښې ابجدي ترتيب سته اونۀ هم تاريخي. مولف په دې تذکره کښې مشران شاعران په اخير کښې راوړي دي. دغه تذکره د عبدالباري اسير د هغه کالمونو ټولګه ده کوم چې د دۀ وخت په وخت په ورځپاڼو کښې خپاره کړي دي ، په دې حواله عبدالباري اسير صاحب هم داسې ليکي:

"ہماری اس کتاب میں صوبہ سرحد سے لیکر بلوچستان کے 184 شعراء کو متعارف کرایا گیا ہے ان کی زندگی کے حالات اور کلام کے نمونوں کے ساتھ ساتھ ان کی تصاویر بھی دی گئی ہیں جو عرصہ چھ سال سے روزنامہ جنگ مشرق میں ان پر لکھے گئے ہفتہ وار کالموں کو یکجا کر کے کتابی شکل اس لیے دی جارہی ہے تاکہ یہ نایاب موتی دنیا کے اندھیروں میں گم ہونے سے بچ جائیں اسی لیے انہیں ایک کڑی میں پرو کر آپ اور تاریخ کے سامنے پیش کر رہا ہوں"(9)

**ژباړه**: زموږ په دې کتاب کښې له صوبه سرحد څخه نيولې تر بلوچستان پورې 184شاعران پکښې معرفي شوي دي د دوئ د ژوند حالات او د کلام بېلګو سره سره عکسونه هم ورکول شوي دي، له شپږ کالو راهسې په جنګ او مشرق ورځپاڼو کښې د ونيزو کالمونه سره يو ځاى شوي او کتابي بڼه د دې دپاره ورکول شوې ده چې دغه نايابه غمي د نړۍ له تيارو وژغورو تاسو او د تاريخ مخ ته يې وړاندې کړو

لکه څنګه چې پورته ذکر وشو چې دغه شاعران په ورځپاڼو کښې معرفي شوي دي نو ځکه خو پر دې باندې د اخباري کالمونو ډېر اثر دی او د تذکره نګاري اصول په نظر کښې نۀ دي نيول شوي، ځيني شاعران بېخي په لنډو ټکو کښې پېژندل شوي دي او د ځينو دپاره بيا مولف ډېر وږد بحث کړی وي او د هغو په ژوند يې په تفصل سره رڼا اچولې ده، په دې تذکره کښې د صحافت رنګونه هم ډېر معلومېږي هغه لکه دا چې ډېر شاعران د مرکو له لارې معرفي کېږي، له ځينو شاعرانو سره خو دومره وږدې مرکې شوي دي چې د تذکرې ګومان هم ورباندې نۀ کېږي. د خوښې شاعر د خوښې ښار ،د خوښې ګل ،شاعري دې ولې پېل کړه او داسې نوري بېځايه پوښتنې مولف له شاعرانو څخه په دې مرکو کښې کړې دي، چې د تذکرې له اصولو په ډاګه سرغړونه ښکاري. په دې تذکره کښې مولف يو داسې انداز بيان خپل کړی دی چې يوه رنګه رنګينې پکښې معلومېږي او اکثره ځايو کښې يې د شاعرانو دپاره تحسيني کلمې کارولې دي او له تنقيد څخه يې ډډه کړې ده، د عبدالباري اسير دغه تذکره د هغه لوستونکو دپاره ليکل شوې ده چې ژبه يې اردو وي يا په پښتو نۀ پوهېږي خو په دې

تذکره کښي راوړل شوي اشعار ټول په پښتو دي پکار خو دا وه چي د پښتود اشعار ژباړه هم په اردو کښي سوې وائي بیا به لیکوال په خپل مقصد کښي بشپړ کامیاب شوی وه.روشن اگتے ہات ہ تذکره هم د سهیلي پښتوخوا د یو له اولنیو تذکرو څخه ده عبدالباري اسیر صاحب په ډېره خواري سره دغه تذکره ترتیب کړې ده د هر شاعر د پېژندګلوي سره یې د غه عکس هم راوړی دی.لکه څنګه چي د عبدالباري اسیر په لومړۍ تذکره د احساس سترګي کښي شاعران معرفي کړي دي په دې تذکره کښي یې هم هغه خپل سبک خپل کړی دی.د خپلي سیمي شاعران یې په داسي تورو نازولي دي چي په بله هیڅ یوه تذکره کښي هم دغه طرز په نظر نۀ راځي.مولف په دې تذکره کښي هم دا هڅه کړې ده چي د شاعرانو په کلام باندي له تنقید څخه ځان وژغوري دې بحث ته ربنواز مائل هم اشاره کړې ده هغه په دې حواله داسي لیکي:

”عبد الباری اسیر نے تنقید سے کام نہیں لیا.کیوں نہیں لیا اس کا جواب بھی انہی کے ذہن میں ہو گا. لیکن تحسیني اظهار بھی ایک طرح کی تنقید ہی ہے میں اس پر ضرور زور دوں گا اُردو شعراء کے اکثر تذکرے ایسے ہی ہیں“(10)

**ژباړه**:عبدالباري اسیر له تنقید څخه ولي کار نۀ دی اخیستی،ولي یې وانۀ خیست دغه جواب به هم د دۀ په ذهین کښي وي.لیکن تحسیني اظهار هم یو رنګه تنقید دی زۀ په دې ضرور زور ورکوم،د اُردو شاعرانو اکثره تذکرې هم داسي وي.

په دې تذکره کښي مولف هڅه کړې ده چي ټول شاعران په انداز سره معرفي شي او د هغوی په شخصت کښي فرق رانۀ شي.هغه د مائل صاحب خبره چي تحسیني اظهار یې خپل کړی دی.خو د دې سمي یو بل لیکوال محمد نسیم د ربنواز مائل صاحب دې خبري ته داسي داسي جواب وائي:

”اتحسیني اظهار هم د تنقید یو ډول دی مګر دغه تنقید په هنري نثري ادبیاتو کښې په غیر شعوري توګه هم کېدلی شي که څۀ هم څۀ ناڅۀ نیمګرتیاوي دغه تذکره لري خو د ادب ومیدان ته یوه مثبت اضافه ده“(11)

لنډه داچي عبدالباري اسیر د سهیلي پښتوخوا د ادب په تاریخ کښي یو ستره ادبي څېړه ده،د دۀ تذکرې د پښتو ادب په تاریخ کښي ځان ته ځانګړی مقام لري،هغه په دې چي دۀ وخت په وخت د پښتو ادب وتلې ادبي څېرې د ادب نړۍ ته ورپېژندلي دي که څۀ هم دۀ په خپلو تذکرو کښي له تنقید څخه ځان ژغورلی دی او په هر وخت کښي یې لیکوالو او شاعرانو ته تحسین ورکړی دی.دلته د دې خبري مطلب دا نۀ دی چي عبدالباري اسیر په تنقید نۀ پوهیدل یا یې له تنقید سره اختلاف درلود،چي کله هم د پښتو تذکره نګاري بحث مخي ته راځي د عبدالباري اسیر نوم به د حوالې په توګه کارول کېږي.

## حوالې

(1)اڅکزی احمد ولي، 2015،هممانیزو او ورته لغتونوقاموس،پښتو اکېډمي کوټه،مخ219

(2) خٹک پرول،1990،پشتواردو لغت،پشتواکیڈمی پشاور،صحفہ495

(3) طاہر یاسمین سردار،2013 ، اُردو تنقید میں تذکروں کی اہمیت، مشمولہ ،عکاس کتابی سلسلہ ۱۷ ،صحفہ32

(4)ماکو،سلېمان ،(۱۳۷۹ ل)پښتو تذکره الاولیاء،عدالحی حبیبي،حبیبي د

څېړنو مرکز،پېښور،مخ5

(5) پروفیسر صاحبزاده حمیدالله، پشتوادب بلوچستان میں ، ۲۰۰۶،پشتو ادبی بورڈ بلوچستان،صفحہ ۱۰۲.

(6) اسیر عبدالباري،1985،د احساس سترګي،شیدایان پښتو ادب پښین،مخ13

(7)همدغه مخ109.110

(8) وفا محمد داود ،د پښتو اوسنۍ تذکرې،مومند خپرندویه ټولنه ننګرهار ،215،مخ595

(9) اسیر عبدالباری،1991،روشن اگتے ہاتھ،،سعد پبلی کیشنز کوئٹہ،صحفہ،26

(10) الیضاً صحفہ،26

(11) محمد نسیم،2017،د کسې ګلان او روشن اگتے ہاتھ پرتلیزه جاج.تکتو،شماره18جلد9،پښتو څانګه

بلوچستان یونیورستي کوټه،مخ 52